Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

دریيم کال - ۲۴مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۶مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۷/۹



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د هرات–خواف اوسپنې پټلۍ د څلورمې برخې لومړی فاز بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

۲- د افغان او قزاق سوداګرو ترمنځ د ۲۰ میلیون ډالرو په ارزښت سوداګریز تړونونه لاسلیک شول

## د هرات-خواف اوسپنې پټلۍ د څلورمې برخې لومړی فاز بشپړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو



د هرات-خواف اوسپنې پټلۍ د څلورمې برخې د لومړي فاز جوړولو چارې بشپړې او دغه پروژه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه. د دې برخې بشپړېدل د افغانستان د سوداګريزو او ترانسپورتي زېربناوو د پراختيا په برخه کې مهم پرمختګ بلل کېږي، چې له مخې به يې د هېواد د وارداتي او صادراتي توکو د لېږد لپاره د رېل‌پټلۍ ظرفيت زيات او له سيمه ييزو بازارونو سره د افغانستان سوداګريز اتصال پياوړی شي.

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري مسوولين وايي، چې د هرات-خواف اوسپنې پټلۍ پراختيا به د توکو د چټک، منظم او کم لګښته لېږد زمينه برابره کړي. د رېل‌پټلۍ له لارې د زياتو توکو انتقال د بارورونکو موټرو په پرتله د لېږد په لګښتونو کې د کموالي، د سوداګريزو توکو د انتقال د ظرفيت د لوړوالي او د سوداګرو لپاره د ترانسپورتي اسانتياوو د زياتېدو زمينه برابروي. د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري د معلوماتو له مخې، دغه پروژه د يوه قزاقستاني شرکت په همکارۍ جوړه شوې او اداره يې په پام کې لري، چې په نږدې راتلونکي کې د هرات-تورغونډۍ، هرات-مزارشريف او هرات-سپين‌بولدک اوسپنې پټليو د جوړولو چارې هم پيل کړي. د دغو مسيرونو پراختيا به افغانستان له ايران، منځنۍ اسيا او نورو هېوادونو سره سره د رېل‌پټلۍ له لارې ونښلوي.

په همدې حال کې، د قزاقستان د سوداګرۍ وزارت مرستيال ويلي، چې په افغانستان کې د اوسپنې پټليو او ترانسپورتي زېربناوو پراختيا د مرکزي اسيا له هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو د پراخېدو لپاره مهمه ده. نوموړي زياته کړې، چې قزاقستان د سوداګريزو او اقتصادي اړيکو د پراختيا لپاره هڅې کوي او د افغانستان د ترانسپورتي زېربناوو پياوړتيا کولای شي د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ د زياتېدو زمينه برابره کړي.

په هرات کې د ايران د قونسلګرۍ مرستيال وايي، چې د هرات-خواف اوسپنې پټلۍ له فعالېدو وروسته د ايران او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه لوړه شوې او اوس مهال هره مياشت زرګونه ټنه توکي له دې لارې افغانستان ته انتقالېږي.

د اوسپنې پټلۍ له لارې د توکو انتقال د ځينو نورو ترانسپورتي لارو په پرتله لږ لګښت لري او د دې لارې پراختيا کولای شي د وارداتو او صادراتو لګښتونه راکم او د سوداګريزو فعاليتونو بهير چټک کړي.

د هرات-خواف اوسپنې پټلۍ د څلورمې برخې د دويم فاز د ۴۷ کيلومتره په اوږدوالي د جوړولو چارې هم روانې دي. د دغه فاز بشپړېدل به د رېل‌پټلۍ د انتقال ظرفيت نور هم لوړ کړي او د افغانستان د لوېديځ له لارې به د سوداګريزو توکو د انتقال او سيمه‌ييز ترانزيت لپاره لا زيات ظرفيت رامنځته کړي.

# د افغان او قزاق سوداګرو ترمنځ د ۲۰ میلیون ډالرو په ارزښت سوداګریز تړونونه لاسلیک شول

د افغانستان او قزاقستان د سوداګرو ترمنځ د هرات ولایت په سوداګریزه ناسته کې د ۲۰ میلیون ډالرو په ارزښت سوداګریز تړونونه لاسلیک شول. دغه تړونونه د دواړو هېوادونو د سوداګریزو اړیکو د پراختیا او د افغانستان د کرنیزو او تولیدي محصولاتو لپاره د منځنۍ اسیا بازارونو ته د لاسرسي په برخه کې د یوه مهم سوداګریز ګام دی.

د هرات د ځايي مسوولینو په وینا، یاد تړونونه د هرات والي شیخ مولانا اسلام‌جار، د افغانستان لپاره د قزاقستان ځانګړي استازي یرکین توکوموف او د دواړو هېوادونو د یو شمېر سوداګرو په شتون کې لاسلیک شوي دي.

په سوداګریزه ناسته کې قزاقستان د افغانستان له مهمو سوداګریزو شریکانو څخه بلل شوی او ټینګار وشو، چې د لاسلیک شویو تړونونو له مخې به د هرات ولایت یو شمېر کرنیز او تولیدي محصولات د منځنۍ اسیا هېوادونو ته صادر شي. د دغو تړونونو عملي کېدل کولای شي د افغانستان د کورنیو تولیداتو لپاره نوي بازارونه رامنځته او د صادراتو کچه لوړه کړي.

د هرات کرنیز محصولات، په ځانګړي ډول وچې او تازه مېوې، زعفران او نور کورني تولیدات، د سیمې بازارونو ته د لاسرسي د زیاتېدو ظرفیت لري. له بلې خوا، د سوداګریزو اړیکو پراختیا کولای شي د افغانستان او قزاقستان د خصوصي سکتور ترمنځ د ګډو سوداګریزو فعالیتونو، پانګونې او د توکو د تبادلې زمینه هم پراخه کړي.

له قزاقستان سره د افغانستان د سوداګریزو اړیکو پراختیا د منځنۍ اسیا بازارونو ته د هېواد د محصولاتو د لاسرسي لپاره ډېر مهم دي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرو ناستې او د مشخصو سوداګریزو تړونونو لاسلیک کول د خصوصي سکتور د اړیکو د پراختیا او د صادراتو د زیاتېدو لپاره عملي زمینه برابروي.

د ۲۰ میلیون ډالرو په ارزښت د یادو تړونونو عملي کېدل به د افغانستان د تولیدي او کرنیز سکتور لپاره د بازار موندنې، صادراتو او عایداتي فرصتونو په رامنځته کولو کې اغېز ولري او له منځنۍ اسیا سره به د هېواد سوداګریز اتصال نور هم پیاوړی کړي.

